د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 462**

(04 - 09 سلواغه 1403 هـ ش)

## په غزه کې د اوربند هوکړه: لاملونه او پایلې یې



دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- په غزه کې د اوربند هوکړه: لاملونه او پایلې یې ........ 3
- د غزې د اوربند لاملونه ........ 3
- د اوربند د هوکړې لیک محتوی ........ 5
- ګټې او پایلې یې ........ 6
- منابع ........ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## په غزه کې د اوربند هوکړه: لاملونه او پايلې يې

### سريزه

د طوفان الاقصی عملیاتو د پيل څخه شاوخوا ۱۵ مياشتې تېرې شوې او په دې موده کې د اسرائيلي رژيم بې رحمانه بريدونو په غزه کې پراخې ويجاړۍ رامنځته کړې دي. دې جگړې د ۴٦۹۱۳ څخه زيات فلسطينيان شهيدان او ۱۱۰۷۵۰ نور فلسطينيان يې ټپيان کړي دي. چې زياتره يې ماشومان او ښځې دي. په ورته وخت کې، د استوگنيزو ودانيو ۹۲ سلنه ويجاړې شوې يا زيانمن شوي دي. د غزې ۹۰ سلنه نفوس چې شاوخوا ۲.۱ ميليونه کسان کيږي، تر دې اوربند پورې بې ځايه شوي دي. همدارنگه، د صحي تاسيساتو ۷۰ سلنه ويجاړې شوې او د مکاتبو ۹۵ سلنه برخه يا په جزئي يا کلي توگه تخريب شوې ده.[1]

د اسرائيلي رژيم او د حماس اسلامي مقاومت غورځنگ ترمنځ د اوربند هوکړه په داسې شرايطو کې شوې چې نړيواله ټولنه او د بشري حقونو سازمانونه په ويره کې د غزې د بحراني وضعيت څارونکي وو. د خوړو کموالی، د زيربناوو ويجاړيدل، د ميليونونو تنو بې‌ځايه کېدل، د ناروغيو خپريدل او ورځنۍ جگړې د دې سيمې حالت په يو خلاص زخم بدل کړی و. اوس چې دغه تړون پلی شوی، تر اوسه د بنديانو دوه تبادلې شوي دي: په لومړي پړاو کې ۹۰ فلسطيني بنديان (٦۹ ښځې او ۲۱ ماشومان) د درې اسرائيلي ښځو په مقابل کې آزاد شوي دي. په دوهم پړاو کې د څلورو اسرائيلي (نظامي) ښځو په مقابل کې ۲۰۰ فلسطيني بنديان ازاد شول چې ۱۲۰ يې پر ابدي بند سزا محکوم شوي وو.

په دې مقاله کې د غزې د اوربند پر لاملونو، د اوربند هوکړه ليک پر مهمو موادو، گټو او پايلو بحث شوی دی.

### د غزې د اوربند لاملونه

#### لومړی- کورني لاملونه

**د حماس له اړخه:** په ۱۵ مياشتو خونړۍ جگړه کې، هغه څه چې د فلسطيني مقاومت له خوا د حماس اسلامي مقاومت غورځنگ په مشرۍ په اړه د اوربند موافقې ته د رسېدو په اړه په ذهن کې راځي،[2] د هغوی زړورتيا او استقامت دی. ځکه چې د اسرائيلي رژيم مشر نتنياهو غوښتل چې حماس په بشپړه توگه نابود کړي او خپل اسيران په زور، تجاوز او نسل‌وژنه آزاد کړي. برعکس، فلسطيني مقاومت ثابته کړه چې د استقامت او زړورتيا مقاومت به هر دښمن ته ځواب ورکوي او تل په خپلو شرايطو ټينگار کوي. په وروستيو کې حماس په النصيرات، المواصي او دير البلح سيمو کې نظامي پرمختگ وکړ او په دغو سيمو کې يې لاسته راوړنې درلودې چې له امله يې اسرائيل او نړۍ حيرانه شوه. د جگړې په اوږدو کې د فلسطيني ملت استقامت، د شهادت، ټپونو، بې ځايه کيدو او تحريم سره سره، د فلسطيني مقاومت گروپ تر څنگ پاتې شوي او ثابته کړې

یې ده چې فلسطینی ملت د صهیونیستانو په وړاندې مقاومت کولی شي او هیڅکله به له خپلو ارزښتونو نه تیریږي.

**د اسرائیلي رژیم له اړخه**: بې له شکه، د اسرائیلي رژیم له جګړې پیل څخه تر اوسه فلسطیني مقاومت ته د سترو ځاني تلفاتو په اړولو سره بیا هم په جګړه کې خپلو اهدافو ته نه دی رسیدلی. له همدې امله، د اسرائیلي اسیرانو د کورنیو فشار او د ټرمپ له خوا اقتصادي فشارونه هم د دې لامل شول چې د اسرائیلي رژیم مشر نتنیاهو د غزې جګړې بندیدو او د اوربند هوکړه لیک لاسلیکېدو ته تیار شو.

**دویم- بهرني لاملونه**

**امریکایي لامل**: په غزه کې د جګړې دوام اصلي عامل متحده ایالات و. امریکایي مقاماتو په نړیواله کچه د بایډن اداري له خوا د نتانیاهو په څرګند ملاتړ او په امنیت شورا کې د ویټو کارولو سره په غزه کې د جګړې دوام ته وده ورکړه او د اسرائیلي رژیم لپاره د درنو وسلو کښتۍ د فلسطینیانو د ماشومانو او ښځو د وژلو لپاره واستولې. مخکې هغه څه چې د اوربند په اړه ویل کېدل، ټول دروغ وو؛ اوس هم د اوربند اصلي عامل په غزه کې د امریکایي موقف بدلون دی. د امریکا د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د ډونالډ ټرمپ د بریا سره، د صهیونیستي رژیم او حماس اسلامي مقاومت غورځنګ ترمنځ د جګړې درول، د امریکایي اداري له لوري له دوه اړخونو څخه د پام وړ وګرځید: لومړی دا چې بایډن اداره چې ځان یې له ټاکنو څخه وویست او له سیالۍ لاس په سر شوه، خو په همدې حال کې کاملا هریس چې د حزب او بایدن اداري له خوا یې په ټاکنو کې ملاتړ کېده، بریالۍ نشوه. له دې امله بایډن د ټرمپ په انتخاباتي مبارزو کې د خپلې اداري د ناکامیو په اړه د اتهامونو سره مخامخ شو، لکه د امریکا ناکام وتنه له افغانستان څخه، په اوکراین کې د جګړې مهار او په منځنی ختیځ کې د اسرائیلي رژیم په ملاتړ د امریکا ستراتیژیکې ماتې؛ بایډن وغوښتل چې امریکایي اداري ته وښیي چې د اسرائیلي رژیم او حماس ترمنځ د جګړې درولو توان لري. په داسې حال کې چې د دې اوربند امتیاز به ډونالډ ټرمپ ته ورکول کیږي .دویم، د امریکا ټاکنو بریالي ټیم په مشرۍ د ټرمپ پوه شو چې د اسرائیلي رژیم د لویدیځو حکومتونو د نه سترې کیدونکي ملاتړ سره سره په یو کال کې په خپلو اهدافو ندی رسیدلی، له دې امله وپوهیدل چې د دې جګړې دوام به نه یوازې د اسرائیلي رژیم او امریکا لپاره ماتې او بدنامي راوړي، بلکې ممکنه ده چې د امریکا نوې اداري په اړیکو د عربي او اسلامي هیوادونو سره منفي تاثیر ولري.[3] له همدې امله نتانیاهو ته فشار وارد شو ترڅو د اوربند موافقه ومني. لکه څنګه چې د قطر د بهرنیو چارو وزیر په خبري غونډه کې وویل: دا اوربند د امریکا متحده ایالاتو د موقف او جدي پرېکړې په پایله کې رامنځته شوی دی.[4]

**سیمه ییزې هڅې**: د سیمې هیوادونو لکه قطر او مصر هڅې هم ستایلو وړ دي. په ځانګړې توګه قطر په غزه کې د اوربند په ټینګولو کې مهم رول لوبولی. دې هیواد د غزې خلکو ته د بشري مرستو د استولو ترڅنګ، له امریکا او مصر سره د جګړې له پیل څخه د اوربند د ترلاسه کولو لپاره مختلف منځګړیتوبونه کړي او حتی

په ځینو مواردو کې د حماس اسلامي مقاومت له ملاتړ سره تورن شوی دی.[5] لکه څنګه چې د قطر د بهرنیو چارو وزیر، محمد بن عبدالرحمن آل ثاني، د خپل هیواد د مصر او امریکا د ګډو هڅو له بریا څخه د حماس اسلامي مقاومت غورځنګ او د اسرائیلي رژیم تر منځ د اوربند ټینګولو لپاره ستاینه وکړه.[6]

**عامه نارضایتي او نړیوال فشار:** بې له شکه، عامه نارضایتي او نړیوال فشارونه د غزې په اوربند کې یو له اساسي عواملو څخه دي. په دې اړه کیدای شي د میلیونونو خلکو احتجاجونه په ټوله نړۍ کې او همدارنګه د صهیونیستي مقاماتو په وینا کې د افرادو او ډلو احتجاجونه په ځانګړې توګه د امریکا پخواني ولسمشر جو بایډن او د هغه د بهرنیو چارو وزیر د غزې په نسل وژنه کې د لاس لرلو په تور او همدارنګه د اسرائیلي عساکرو په وړاندې د اسرائیل نه بهر د جرمونو شریکیدو لپاره عکس العملونه یې واضح مثالونه دي. د یادولو وړ ده چې دا نارضایتۍ په ځینو مواردو کې نظامي بریدونو ته اړولې، لکه د حزب الله لبنان بریدونه، د حوثیانو بریدونه په یمن کې او د حشد الشعبی بریدونه له عراق څخه په اسرائیلي رژیم باندې، او همدارنګه د جنوبي افریقا شکایت وړاندې کول په نړیوال عدالت محکمه کې د اسرائیلي رژیم په وړاندې د غزې نسل وژنې مخنیوي لپاره لومړنۍ عمل ګڼل کیږي. له هغه وروسته، نړیوال جنایي محکمه د نتانیاهو او د اسرائیلي رژیم د پخواني دفاع وزیر ګالانت د نیولو حکم صادر کړ. دا ټول عوامل د حماس اسلامي مقاومت غورځنګ او د اسرائیلي رژیم تر منځ د اوربند موافقې ته د رسیدو لپاره هڅونکي عوامل کېدای شي.

## د اوربند د هوکړه لیک محتوی

د اسرائیلي رژیم او حماس ترمنځ د اوربند هوکړه لیک درې پړاوونه لري. په لومړي پړاو کې چې اوس پیل شوې او د ۴۲ ورځو لپاره به دوام وکړي، لاندې موارد شامل دي:

**د اسرائیلي رژیم عساکرو وتل:** په دې برخه کې د دواړو خواوو له خوا د نظامي عملیاتو د درولو ترڅنګ، د اسرائیلي رژیم عساکر به له ګڼ مېشتو سیمو څخه په امتداد د سرحد او په ټولو سیمو کې د غزې په ختیځ کې شاتګ وکړي. په داسې حال کې چې د غزې اقتصادي محاصره مخکې له طوفان الاقصی او د اسرائیلي رژیم له خوا د هغې نیول یو خوب و چې له کلونو راهیسې رژیم په سر کې درلود. خو د دې موافقې سره به دا توطئه ناکامه شي.

**د بندیانو تبادله:** د حماس اسلامي مقاومت غورځنګ به ۳۳ اسرائیلي اسیران چې ښځې (نظامي او غیر نظامي)، د ۱۹ کلونو څخه کم عمره ماشومان او د ۵۰ کلونو څخه زیات عمر لرونکي ناروغان او ټپیان غیر نظامیان شامل دي، آزاد کړي. په بدل کې به اسرائیلي رژیم د هر ښځې، ماشوم او زوړ اسرائیلي په مقابل کې ۳۰ فلسطیني ښځې، ماشومان او زاړه کسان آزاد کړي. همدارنګه په دې پړاو کې به د هر آزاد شوي اسرائیلي ښځینه نظامي په بدل کې اسرائیلي رژیم ۵۰ فلسطیني بندیان چې ۳۰ یې د تل عمر بند سزا شوې او ۲۰ یې د ۱۵ کلونو پورې د بند سزا لري، آزاد کړي. په لومړي پړاو کې به په ټولیزه توګه اسرائیلي

رژیم شاوخوا دوه زره فلسطیني بندیان آزاد کړي او په دوهم پړاو کې به د پاتې اسرائیلي او فلسطیني اسیرانو په اړه خبرې وشي. په داسې حال کې چې نتانیاهو تل ټینګار کاوه چې اسرائیلي اسیران به پرته له کوم بدیل ژر په زور آزاد کړي، خو ښکاري چې اسرائیلي رژیم په دې پلان کې هم ناکام شوی دی. له بلې خوا د حماس له خوا د اسرائیلي عساکرو اسیر کول د فلسطیني اسیرانو د آزادولو هدف و چې حماس ورته رسیدلی دی.

**د نتساریم لاره:** دا لاره د ٦ کیلومتره په اوږدو کې له اشغال شویو سیمو څخه د غزې ښار سره تر مدیترانې سمندر پورې غځیږي چې د غزې له منځه تیریږي. دا لاره د اسرائیلي رژیم له خوا د جګړې په اوږدو کې په فلسطین کې جوړه شوې ده. د اوربند د موافقې له مخې، د دې موافقې د پلي کولو له ۲۲ ورځې وروسته به د اسرائیلي رژیم ځواکونه له دې لارې څخه شاتګ کوي.

**د رفح لاره:** د رفح لاره چې د غزې په جنوب کې د فلسطین او مصر په سرحد کې موقعیت لري او د غزې خلکو لپاره د نړۍ سره د اړیکې حیاتي دروازه ګڼل کیږي او تل د اسرائیلي رژیم د توطئې په وړاندې قرار درلود. د دې موافقې له مخې، اووه ورځې وروسته له دې چې موافقه پلی شي، دا لاره به پرانیستل شي او بشري مرستې به له دې لارې فلسطین ته واردې شي.

**د داخلي بې ځایه شویو راستنیدل:** په دې موافقه کې راغلي چې له اوومې ورځې څخه به داخلي بې ځایه شویو ته اجازه ورکړل شي چې پرته له کومې تفتیش څخه خپلو ځایونو ته ستانه شي. په داسې حال کې چې د اسرائیلي رژیم وحشت په اوږدو کې په غزه کې داسې نه ګڼل کیده چې څوک به په دې ښار کې بیا میشت شي.

**د بشري مرستو ترسره کول:** د موافقې له مخې، د رفح له لارې به هره ورځ ٦۰۰ لارۍ بشري مرستې فلسطین ته واردې شي چې ۵۰ لارۍ یې د سون مواد او ۳۰۰ لارۍ یې شمالي غزې ته واردې شي. په دریم پړاو کې به د دواړو خواوو له خوا ترلاسه شوي ټول مړي او پاتې شوني تبادله شي او د غزې د بیا رغونې پلان به د ۳ څخه تر ۵ کلونو په موده کې د کورونو، غیر نظامي ودانیو او زیربناوو په ګډون د ټولو زیانمنو کسانو لپاره د غرامت په شمول، د دې موافقې د ملاتړ کوونکو هیوادونو او سازمانونو تر نظارت لاندې پیل شي.

د پورته موادو په پام کې نیولو سره، د دې موافقې مواد هغه څه دي چې اته میاشتې مخکې د ۲۰۲۴ میلادي کال د مې په میاشت کې د حماس اسلامي مقاومت غورځنګ لخوا تایید شوي او د اسرائیلي رژیم لخوا رد شوي و.

### ګټې او پایلې یې

### ګټې

- د اوربند د موافقې موادو په نظر کې نیولو سره، د اسرائیلي رژیم چې مخکې یې په هره جګړه کې ځان بریالی ګڼلی و، دا ځل د فلسطیني مقاومت په ځانګړې توګه حماس په وړاندې ستراتیژیکه ماتې خوړلې او په سیمه او نړۍ کې یې د استخباراتو او دفاع حیثیت له لاسه ورکړی دی.
- د طوفان الاقصی پېښه په ۷ اکتوبر ۲۰۲۳ کې نه یوازې دا چې اسرائیلي رژیم یې مجبور کړ چې د غزې د اوسیدونکو په وړاندې ویجاړونکې جګړه وکړي، بلکې مجبور یې کړ چې د لومړي ځل لپاره خپل اصلي او مجرم څېره چې د نسل وژنې جرمونه یې ترسره کړي، ثبت کړي.
- د اسرائیلي رژیم وحشت په غزه کې د اوربند د موافقې له موادو سره سم، د اسرائیلي رژیم اخلاقي او قانوني مشروعیت کم کړی او د فلسطین مسئله یې د نړیوالې ټولنې د سیاسي اجنډا په توګه بېرته راوګرځوله.
- د ۷ اکتوبر جګړې څخه تر اوربند موافقې پورې د لویدیځ نفاق او دوه ګوني معیارونه په غزه کې د اوکراین په پرتله افشا کړل او د لویدیځو نظامونو اخلاقي او انساني مشروعیت یې چې تل یې د بشري حقونو او آزادۍ په اړه خبرې کولې، له منځه یووړ.
- له ۱۹۷۰ لسیزې څخه وروسته په ځانګړې توګه په ۲۰۱۱ کال کې د عربي پسرلي په جریان کې، ډېری عربي هیوادونو د اسرائیلي رژیم سره د اړیکو عادي کولو پالیسي غوره کړې وه، چې هدف یې په سیمه کې د فلسطین د مسئلې د حل پرته د اسرائیلي رژیم په رسمیت پیژندل و. [7] لله الحمد د طوفان الاقصی عملیاتو او د فلسطیني مقاومت ګروپونو بریا سره به د عادي کولو بهیر ودرول شي.
- د فلسطین مسئله چې له کلونو راهیسې د هیوادونو په ځانګړې توګه د عربي او اسلامي هیوادونو او نړیوالو سازمانونو له خوا هیره شوې وه، طوفان الاقصی یې د هیوادونو او نړیوالو سازمانونو د سیاسي اجنډا په توګه بیرته راوګرځوله او په ټوله نړۍ کې د راتلونکو نسلونو په ذهنونو کې یې بیا ژوندۍ کړه.
- په پای کې، د طوفان الاقصی عملیاتو له پیل څخه تر اوربند موافقې پورې، د زړورتیا، شهادت او قربانۍ ارزښتونه په فلسطیني خلکو او عربي او اسلامي ملتونو کې چې له کلونو راهیسې د لویدیځو سریالونو او ټکنالوژۍ له امله په غفلت کې وو، بیا ژوندي کړل.

**پایلې یې**

- طوفان الاقصی که څه هم ځانګړې مفادونه لري، خو د اوربند موافقې په پام کې نیولو سره، د فلسطینیانو د لویو جاني او مالي زیانونو سربیره، د فلسطین قضیه دایمي حل نه دی موندلی. له همدې امله ممکنه ده چې ژر یا وروسته د اسرائیلي رژیم د اشغالګرۍ روحیې او پالیسۍ په نظر کې نیولو سره، د رژیم او فلسطیني مقاومت ګروپونو تر منځ جګړه وشي.
- که څه هم دا موافقه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړې له مخې صادره شوې او په دایمي اوربند ټینګار کوي، خو د جګړې د بیا پیلیدو اندیښنې لا تر اوسه د لومړي پړاو له پای ته رسیدو وروسته شتون لري، ځکه چې دوهم پړاو هم جلا مذاکراتو او موافقو ته اړتیا لري.

- د نتانیاهو ناکامي په خپلو جګړه ییزو ژمنو کې، نتانیاهو د اوربند موافقې په اړه په یوه دوه لارې کې قرار لري: یو د امریکا فشارونه چې په غزه کې د اوربند موافقې ته ورسیدل. په داسې حال کې چې ګمان نه کیږي چې نتانیاهو د اسرائیل په مالي فساد او په جګړه کې د فلسطیني مقاومت په وړاندې د ناکامۍ له امله، د امریکا له خوا د اسرائیل لپاره مناسبه انتخاب نوي. د ښي اړخوالو د جناح عدم رضایت په پیوند کې د اوربند توافق، چې د نتانیاهو په اسرائیل کې د پای کار په توګه ګڼل کیږي. په دې اساس، د ښي اړخوالو د خوشحالولو لپاره، احتمال لري چې نتانیاهو بهانې جوړې کړي او جګړې ته بېرته ستنیږي. لکه څنګه چې په غزه کې اوربند شوی، خو د اسرائیلي رژیم عساکرو په تېره شنبه په لویدیځ کرانه کې جګړه پیل کړې وه، چې په نتیجه کې دوه فلسطیني ځوانان شهید شول او څو تنه نور زخمیان شوي دي.[8]

پایله

د پورته مطالبو په نظر کې نیولو سره، ښکاري چې اسرائیلي رژیم د خپلو ټولو وحشتونو او بریدونو او ظلمونو سره بیا هم د جګړې له لارې خپلو موخو ته نه دی رسیدلی، خو د مختلفو عواملو لکه د امریکایانو فشارونه، د سیمې هیوادونو لکه قطر او مصر منځګړیتوب هڅې او د فلسطیني مقاومت د خلکو استقامت، چې له سرتیرو څخه تر قایدینو پورې په لومړۍ کرښه کې د اسرائیلي رژیم په وړاندې د امریکایی امکاناتو سره جګړه کوله، سبب شوي چې د اوربند هوکړه ومنې.

د اوربند هوکړه لیک خپلې ګټې او زیانونه لري چې په ګټو کې یې د اسرائیلي رژیم د عساکرو د ګڼ مېشتو سیمو څخه وتل، د بندیانو تبادله په ځانګړو شرایطو سره، د بې ځایه شویو خلکو راستنیدل، د حیاتي لارې لکه رفح او د صلاح الدین محور لندمهاله پرانیستل او د بشري مرستو لیږد شامل دي. په زیانونو کې یې د فلسطیني قضیې ناحل پاتې کیدل له مهم زیان څخه ګڼل کېږي. په هر حال، د اسرائیلي رژیم او حماس اسلامي مقاومت حرکت ترمنځ د اوربند هوکړه یو مهم ګام دی چې د منځنۍ ختیځ په ځانګړې توګه د غزې انساني وضعیت ښه کولو او د اوږدې جګړې پای ته رسیدو په برخه کې مرسته کوي.

## منابع

---

[1]. CNN Arabic: **إحصاء بالضحايا وحجم الأضرار التي خلفتها 15 شهرًا من الحرب في غزة، 20 يناير 2025، لینک:**

https://arabic.cnn.com/middle-east/article/2025/01/20/gaza-15-month-after-war-situation-infographic

[2]. ایسنا: مقامات غربی: توانایی حماس در سازماندهی مجدد بسیاری را شگفت زده کرد، 11 جدی 1403 ش، لینک:
https://www.isna.ir/news/1403101107666/مقامات-غربی-توانایی-حماس-در-سازماندهی-مجدد-بسیاری-را-شگفت-زده

[3]. مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی؛ کنفرانس: آتش‌بس حماس و اسرائیل و اثرات آن بر خاورمیانه، دکتور مصباح الله عبدالباقی، محقق و رئیس پوهنتون سلام، 3 دلو 1403ش.

[4]. الجزيرة: لماذا توقفت الحرب على غزة الآن، 19/1/2025، لینک:



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://www.aljazeera.net/blogs/2025/1/19/لماذا-توقفت-الحرب-على-غزة-الآن

[5] . الجزيرة: "الفرنيسية" قطر سلكت طريقا محفوفا بالمخاطر نحو هدنة غزة، 2025/1/17، لینک:

https://www.aljazeera.net/news/2025/1/17/طريق-قطر-المحفوف-بالمخاطر-نحو-هدنة-غزة

[6] . وزارة الخارجية دولة قطر: رئيس مجلس الوزراء وزير الخارجية يعلن التوصل إلى اتفاق لوقف إطلاق النار في غزة، 15 يناير 2025، لینک:

https://mofa.gov.qجميع-أخبار-الوزارة/التفاصيل/15/07/1446/رئيس-مجلس-الوزراءوزير-الخارجية-يعلن-التوصل-إلى-اتفاق-لوقف-إطلاق-النار-في-غزة

[7] . مطالعات سیاسی بین النهرین: بررسی روند عادی سازی روابط اعراب و اسرائیل (2011-2020)، دوره دوم، شماره اول، بهار 1402، لینک:

https://mps.razi.ac.ir/article_2636_c229dd703c28086130905011977efba2.pdf

[8] . خبرگزاری جمهوری اسلامیک اذعان رژیم صهیونیستی به زخمی شدن 3 نظامی در کرانه باختری، 6 دلو 1403ش، لینک:

https://www.irna.ir/news/85730336/اذعان-رژیم-صهیونیستی-به-زخمی-شدن-۳-نظامی-در-کرانه-باختری

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000